# د امریکا د متحده ایالاتو د کار وزارت

# د ماشومانو د ناوړه کاري ګمارنې په هکله د کال ۲۰۲۱ موندنې

## افغانستان

افغانستان په کال ۲۰۲۱ کې د ماشومانو د ناوړه کاري ګمارنو په له منځه وړلو کې کوم پرمختګ نه دی کړی. د 2021 په اګست کې د طالبانو له بیا واکمنیدو وروسته بشري ناورین د دې لامل شوی چې د ماشومانو کار پراخوالی ومومي، ورسره د کار تر ټولو ناوړې بڼې، او د نجونو لپاره د ماشومانو د کار موجوده خطرونه نور هم زیات شوي دي. د دی راپور په موده کې طالبانو په فعاله توګه د خپلو امنیتي ځواکونو د یوې برخې په توګه ماشومان ګمارلي او کارولي دي. سربېره پر دې طالبانو د ماشومانو د قاچاق ځینې قربانیان مجرمین ګڼلي، په ځانګړې توګه هغه کسان چې د <14>بچه بازي</14> قربانیان دي یا په وسله واله جګړه کې ښکیل دي. او د دې پرځای چې دوی د قربانیانو د ملاتړ خدمتونو ته معرفي کړي، د تنکیو ځوانانو په توقیف ځایونو کې یې اچولي او ورسره په فزیکي او نورو بڼو ناوړه چلند کړي دي. برسیره پردې، د 2021 کال د سپټمبر میاشتې راهیسې، طالبانو افغان نجونې په عامه ثانوي ښوونځیو کې له ګډون څخه منع کړي دي. طالبان همداراز د ماشومانو کار پر سرغړونو باندې د جریمه وضع کولو میکانیزم او د ماشومانو کاري مواردو ته د رسېدګۍ یا دهغه د مخنیوی لپاره کافي پروګرامونه نلري. په پای کې، د افغانستان قوانین د کار د حد اقل عمر په اړه نړیوال معیارونه نه پوره کوي، ځکه چې په غیر رسمي سکتور کې پر کارګرانو او یا د اجباري کار د منع کولو لپاره نه پلي کیږي، ځکه چې د افغانستان قانون د غلامۍ په څیر اعمالو ته لکه د پور د خلاصون لپاره غلامي کول په کافي اندازه جرم نه وایي.

لاندې وړاندیز شوي حکومتي کړنې به هغه تشې له منځه یوسي چې د متحده ایالاتو د کار وزارت په ګوته کړي دي، ترڅو افغانستان وکولی شي د ماشومانو کار د ناوړه ډولونو د لمنځه وړلو سره خپلې نړیوالې ژمنې پوره کړي.

| برخه | وړاندیز شوي چارې |
|---|---|
| قانوني جوړښت | ډاډ ترلاسه شي چې د کار د پیلولو تر ټولو مجاز ټیټ عمر پر ټولو ماشومانو یوشان پلی کیږي، د هغو ماشومانو په ګډون چې په غیر رسمي کارونو کې بوخت دي. |
| | د اجباري زده کړې عمر له 15 کلنۍ څخه 18 کلنۍ ته لوړ شي، ترڅو د کار د حد اقل عمر سره سمون ومومي، او ډاډ ترلاسه شي چې دا د نجونو په شمول په ټولو ماشومانو باندې تطبیق کیږي. |
| | ډاډ ترلاسه شي چې د ماشومانو د قاچاق، پوځي ګمارنې او ګټه اخیستنې په اړه د جزا قانون احکام نافذ دي او عمل ورباندې کیږي. |
| | د فحشا لپاره د هلکانو او انجونو کارول جرم وګڼل شي. |
| | د پور لپاره غلامي کول د جرم په توګه منع شي. |
| د قانون تنفیذ | هغه معلومات چې د کار قانون د تنفیذ اقداماتو په پایله کې لاسته راځي باید تعقیب او خپور شي، د کار د شرایطو نظارت ادارې د بودجې، د کار نظارت کونکی شمیر، د نظارت شمیر او ډول چې د ماشومانو د کار په هکله ترسره کیږي، د موندل شوي سرغړونو شمیر، او د ماشومانو د ګمارنې په برخه کې د هغو سرغړونو شمیر چې جزا ورته ټاکل شوي دي. |
| | د هغو هڅو په اړه معلومات خپاره شي چې د جنایی قانون د پلي کولو لپاره ترسره کیږي، چې په کې د جنایي پلټونکو لپاره روزنه، د پلټنو شمیر، پیل شوي محاکمې، ترلاسه شوي محکومیتونه، او د ماشومانو کار د ناوړه ډولونو د سرغړونو لپاره تحمیل شوي مجازات شامل دي. |
| | د <71> </71> کار تفتیش ادارې ته اجازه ورکړل شي چې د مجازاتو تثبیت او ارزونه وکړي او د کار تفتیش لپاره پلي کونکي مقررات رامینځته کړي. |

| برخه | وړاندیز شوي چارې |
| --- | --- |
| | ډاډ ترلاسه شي چې د کار د قانون نظارت کونکی او د جنايي څېړنو مامورينو د ماشومانو د کار شرايط په هکله روزنه ترلاسه کړې دي. |
| | داسې يو مکانيزم جوړ شي چې د ماشومانو د کار شکايتونه ترلاسه کړي، او ډاډ ترلاسه شي چې د کار او جنايي قانون چارواکي اغيزمن شوي کسان ټولنيزو خدماتو ته معرفي کړي. |
| | بايد ډاډ ترلاسه کړو چې د قاچاق او نورو ناوړو کارونو اغيزمن شوي ماشومان د قربانيانو په توګه وپېژندل شي او مناسبه ټولنيزو خدماتو ته راجع شي، دوی بايد توقيف او يا زندان ته وانچول شي، او د شکنجه او بد چلند سره مخامخ نشی. |
| | هغه دولتي چارواکي چې د ماشومانو د کار په ناوړه کړنو کې لکه بچه بازی او د ماشومانو په نظامی صفوفو ګمارل کې لاس لري، بايد وپوښتل شي، ونيول شي، تحقيق ترې نه وشي او که اړتيا وي محاکمه شي. |
| | ډاډ ترلاسه شي چې د اوسني ټړل شوي لوی څارنوالۍ تحقيقاتي او څېړنيز دندې ترسره کيږي. |
| | په هر ولايت کې د ماشومانو د خونديتوب لپاره د چارو شبکې رامينځته شي، چې روزل شوي کارکوونکي ولري او وکولی شي نالوسته کسانو سره مرسته وکړي. |
| | لږترلږه 172 د کار مفتشين استخدام شي ترڅو د نږدې 6.8 مليون کارګرانو کاري ځواک ته مناسب پوښښ رامينځته کړي. |
| همغږی | ډاډ ترلاسه شي چې د ماشومانو د حقونو د ساتنې ملي کميسيون فعال وي او توان ولري چې خپلې ټاکل شوي دندې ترسره کړي، په شمول د دې چې په ټاکل شوي وقفو کې غونډه ونيسي. |
| دحکومت پاليسي | د ماشومانو د کار اړوند کليدي پاليسي پلي شي، لکه د کار ملي پاليسي، د ماشومانو د کار ملي ستراتيژي او د چارو پلان، او د انسان د قاچاق ضد د چارو ملي پلان، او د پلي شوي فعاليتونو پايلې خپاره شي. |
| ټولنيز پروګرامونه | ماشومانو ته <128>برقي تذکرې</128> چې دهويت ملي کارتونه دي ورکړل شي ترڅو دوی وکولی شي ښوونځي ته ځانونه راجستر کړي. |
| | د ماشومانو کار ته د رسېدو لپاره کليدي ټولنيز پروګرامونه پلي شي لکه د آسيا سيمه ايز پروګرام د ماشومانو د کار لپاره، د ماشومانو د خونديتوب لپاره د افغان ملي پوليس ځانګړي قطعې و د تنکي ځوانانو د اصلاح مرکزونو اداره وګمارل شي، او د ترسره کېدونکو اقداماتو په اړه معلومات په عامه توګه وړاندې شي. |
| | د نجونو لپاره په ټولو کچو کې د زده کړې زمينه برابره شي، ماشومانو ته <143>برقي تذکرې</143> چې د هويت ملي کارتونه دي ورکړل شي، ترڅو دوی وکولی ښې په ښوونځي کې ځانونه راجستر کړي، او د زده کړې په وړاندې خنډونو ته لکه جسمي مجازات، د وړ ښوونکو نشتوالی رسېدګی وشي، داسې ښوونکي بايد موجود وي چې د شاګردانو په ژبه خبرې وکړي، او ښوونځي ته د ورتګ په وړاندې ځينې نورې ستونزې لکه اکمالات، درسي کتابونه او ترانسپورت رسيدګی وشی. |
| | د ماشومانو د ساتنې قطعې لپاره د بين الحکومتي راپور ورکولو چينلونه رامينځته شي ترڅو ماشومان وپيژني، د امنيتي ځواکونو سره د دوی د يوځای کيدو مخه ونيسي، او دوی د سرپناه، ټولنيز او کورنۍ سره د بيا يوځای کېدو خدموتونو ته معرفي کړي. |